داسې ځان غوښتونکي او چارې به وي چې تاسو يې نه خوښوئ، هغوی وويل: اې د الله رسوله، ته مور ته په څه امر کوې؟ هغه وفرمايل: تاسو به هغه حق ادا کوئ چې پر تاسو دی، او خپل حق به له الله جل جلاله څخه غواړئ

له ابن مسعود رضی الله عنه نه روايت دی چې رسول الله صلی الله عليه وسلم فرمايلي دي: «داسې ځان غوښتونکي او چارې به وي چې تاسو يې نه خوښوئ، هغوی وويل: اې د الله رسوله، ته مور ته په څه امر کوې؟ هغه وفرمايل: تاسو به هغه حق ادا کوئ چې پر تاسو دی، او خپل حق به له الله جل جلاله څخه غواړئ».
[صحيح دی] [متفق عليه دی]

رسول الله صلی الله عليه وسلم خبر ورکوي چې په مسلمانانو به داسې حاکمان وګمارل شي چې د مسلمانانو په مال او نورو دنياوي چارو باندې به انحصار کوي، په خپله خوښه به يې مصرفوي او له مسلمانانو څخه به پکې د هغوی له حق څخه انکار کوي. او په ديني چارو کې به هم داسې کارونه کوي چې د منلو به نه وي. نو صحابه کرامو رضی الله عنهم پوښتنه وکړه چې: په داسې حالت کې بايد څه وکړي؟ نو رسول الله صلی الله عليه وسلم وويل چې د هغوی دا کار - چې ستاسو مالونه يې ځانته کړل- بايد تاسو هغوی ته له غور نيولو او واجب اطاعت څخه منع نه کړي، بلکې صبر وکړئ، غور ورته ونيسئ او اطاعت يې وکړئ او د واک په سر ورسره شخړه مه کوئ، او تاسو خپل حق له الله څخه وغواړئ او - دعا ورته وکړئ چې الله - يې اصلاح کړي او تاسو د هغوی له شر او ظلم څخه وساتي.

http://www.sunnah.global/hadeeth/ps/show/3156